
لیکوال خوشنود خرمي
ژباړه محب الرحمن ماليار
هغه لیک چې سخت یې
وژړولم

# د کیسې پیژندنه

کتاب :لنډه کیسه

نوم :هغه لیک چې سخت یې وژړولم

لیکوال :خوشنود خرمي

ژباړه :محب الرحمنماليار

ژبه :پښتو

ایډیټ :افغان کتابتون

خپرونکی :افغان کتابتون

افغان کتابتون

# بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

افغان کتابتون

# پیل

شپاړس کاله مخکې مې له پلار سره زړه بدي راغله. ماسپخښين مهال وو. مونږ دواړو يو بل ته تېرې زياتې وکړې. زه ځوان وم ګڼي دا مسله دومره جدي نه وه چې خوا مې پرې بده شوې واى. بس هسې احساسات مې په عقل غالبه وو نه مې غوښتل چې د پلار له ځوابه پاتې راشم. پلار مې هم زما په څېر جدي، اندېښمن، سودايي وو او زړه يې ډېر نازک و. له زينو په ترانۍ راغی او ښه کلکه څپېړه يې مخ ته را سيخه کړه. په هزارګي ژبه راته له غوسې سور شين واوښت په رېږدېدلي لهجه يې راته کړل چې « د تمام آغيل يک باچه نيه که د مقابل اته خو مثل تو ورى ايستاد شونه»

يعني په کلي کې ستا په څېر سپين سترګى مې نه دى ليدلى چې خپل پلار سره ژبه واړوي او د پلار په وړاندې ودرېږي. همدې څپېړې، همدې خوابدى او همدې لانجې زما پر مخ د برخليک نوي ورونه پرانيستل. نور مې هيڅ ونه ويل، شپې ناوخته لاندې خونې يعني تل خونې ته کېوتم. د پلار واسکټ مې په ديوال راځړېدلى و. د پلار جيبونو ته مې لاس ور وړ، دقيق مې حافظه کې نه دي پاتې چې څومره نغدې پيسې وې خو دا مې ياد دي چې د همدې ورځې په پرون

يې پسه پلورلی و. د پلار له جيبونو مې هرڅه را واخيستل ګهيځ ملا اذان له کوره ووتم. همداسې روان وم، کور رانه سوکه سوکه لرې کېده بيا مې رو رو کلی پناه کېده. له کوره لرې شوم، له کورنۍ هم پناه شوم. بالاخره له ښاره هم ووتم. په هغو لارو مې سترګې ښخې شوې چې کلونه وړاندې مې پلار پرې تللی وو. د ايران زاهدان، تبرېز او اصفهان ته ورسېدم، نه پوهېږم چې زما له تېښتې وروسته به مې په کورنۍ کومې ورځې راغلي وي.

په دې هم نه يم خبر چې د کور کلي په وړاندې به مې کورنۍ څومره سپکه شوې وي؟ په دې هم خبر نه يم چې پلار به راپسې څومره ځايونه لټولي وي؟ څومره ناکراره شپې به يې له اندېښنو رنې تېرې کړې وي؟ خدای خبر چې مور به راپسې څومره له ځوره زړه خوړلی وي؟ خو د دې تېښتې د نفسګيره داستان زور يوازې ما حس کولی شو. احساساتي ځوان وم او تجربه مې ډېره خامه وه. د همدې خام باور او سرتمبګۍ له مخې مې مسير نه و معلوم بس ځان سره مې منلې وه چې « ځم چې هر ځای ته ولاړم »

څلورکسيزه کورنۍ مې درلوده. دې کورنۍ کې زه وم، مور مې وه، پلار مې و او يوه لس کلنه خور مې وه چې مرجان نومېده.

د ژوند د زړه تنګون په سختو لارو کې مې تول هېر کړل خو کله به مې د مور ځېره سترګو ته ودرېده چې راته به یې وېل:

ـ زویه د پلار په وړاندې دې غږ مه جیګوه.

مور ته مې هم کومه اندېښنه نه لرله له تولو نهایت خفه او خوابدی وم له دې کشمشکونو پینځه کاله واوښتل دا چې له تولو خفه وم. د دې ستړي کلونو په اوږدو کې مې د خپل د کورنۍ هېڅ غږي سره هېڅ ډول اړیکه نه لرله. په یوې ګوښې ځای کې یوه کارخونه کې مې د غالۍ اوبدلو کار پیل کړ. د ځان، وطن او کورنۍ په هکله مې چا سره بحث نه کاوه نه مې کورنۍ ته د داډ لپاره کوم لیک ولیږه ان له خپلو قومیانو مې ځان ځندې ته کړ.

هلته چا نه پېژندم. څوک نه پوهېدل چې زه څوک او له کوم ځایه راغلی یم. ښایي کورنۍ مې هم منلې وي چې زه نور ژوندی نه یم. ښایي د دوی زړونو کې زما لپاره کوم ځای نه و پاتې ځکه دوی هم څوک نه و پوښتلي چې محمد چېرې او څنګه دی؟ بیا به مې هم ځانته ویل: نه ، نه داسې نه ده زه د مور نازولی زوی وم په پلار هم ګران وم ځکه زه یې یوازنی نرینه اولاد وم زمونږ تولنه کې د زوی لرل د بقا او پایښت په مانا ده ځکه چې څوک زوی نه لري

د هغه مال میراث وي. خور راته د یو نهال امید درلود چې سختو ورځو کې د دې نیالګي سیوري ته به پناه راوړي. زما د تېښتې پېښه یو تصادف وو چې ما یې اټکل نه وو کړي. ددې ذهني کشمکشونو برسېره مې ځان هماغسې په خنګ نېولی وو. نه مې غوښتل له کورنی سره کومه اړیکه ولرم او نه هم د دې لېوال وم چې څوک مې احوال وپوښتي.

پینځه کلونه مې په یوازېتوب کې واوښتل، نه پوهېږم چې ما مې پلار ته ولې دومره زجر ورکړ؟ نه پوهېږم ما له هغه د څه شي غچ او انتقام اخیستل غوښتل؟ او ولې مې زړه د کینې له اوره داسې ورته پړسولی وو؟ دې کلونو کې مې یوه ورځ زړه ښه نه کړ چې یوازې همدومره وایم چې پلاره ژوندی یم. موري زه دلته یم او زه ښه یم. بس همدومره ویلو ته مې خوله نه جوړېده. څومره ماشومانه ضد نیولی وم چې مې خپل پلار ته دا ډول زجر ورکړ. یو وخت د اروپا لارې اسانه شوې د کډوالو د یوې څپې سېل په اروپا ورمات شو چې زه هم د دې کډوالو یوه برخه وم د دې لوی سفر موزې مې کلکې پښو ته واچولې له یو اوږده مزل وروسته د اروپا په دروازو ور ننوتم، ایټالیا ته لاړم او هلته راته د هغه ځای تابعیت راکړل شو. د یو انسان په توګه مې درناوی وشو. نوې لارې او نوې ارزوګانې مخ ته راغلې، نوې خلک

مې ژوند ته راغلل. په دې رنګين ښار کې مې هغه له ختيو د جوړ کور رنګين رنګ ونه وليد، د مور، پلار او خور هجر راته ژوند خورا بې رنګه او پيکه کړی و. څه وخت له همدې رنګين ژونده ستړی شوم د مور، پلار او خور ياد زما په هوساينو سيوری غوړولی و، نه پوهېدم چې هغوی به چېرته وي مرجان به اوس څوانه وي هغه به ښکلې وي؟ کورنۍ به مې ښه وي کنه؟ همدې انديښنو په مخه کړم اوس مې د هغه عقدې اور سوړ شوی و. نور مې له کورنۍ او خپل قومه کينه نه کېده. هرڅه مې هېر کړي و. دا هېرول هلته شوني شول چې زه يوې بلې تولنې ته ننوتم او په يوې بلې ژبې غږېدل مې پيل کړل. او بيا کله چې د يو کال بېلتون پر جريان کې دې ځوک د يوې شېبې لپاره په زړه را ونه ګرځې نو طبعاً دوی ستا لپاره مړه دي. يوه ورځ چا وپوښتلم چې افغانستان کې دې کورنۍ شته؟ نو بې له ځنډه مې وويل چې نه، نه يي لرم. يوه شېبه مې سر ګرېوان ته کوز کړ ځان سره مې وويل: هو وطن کې کور او داسې معصومه کورنۍ لرم چې ډېر بې باکه او احمقانه ډول مې يوازې پرېښودل.

او بيا مې دوی هېر کړل هېڅ مې د دوی په حال فکر ونه کړ چې دوی به ښکه وي؟ څه حال به يې وي؟

بله ورځ کار ته ووتم، ژوند همداسې تېرېده لکه سړی يوازې په دې دنيا کې خپل د ځان لپاره فکر کوي، د بل چا هېڅ انديښنه ونه لري. همدې بې تفاوتۍ کې شپې او ورځې اوړېدې چې تېر کال زما د تېښتې او فاميل سره زما د اړيکو د پرېکون پينځلسم کال پوره شو. يو سهار مې د خپل د خونې ځړېدلې پردې راونغاړلې او له کړکيو مې يوه شېبه بيرون کتل چې زه يې د تېر ژوند، کور او فاميل خاطرو ته يوړم کتل مې چې ماشومان د باران تر شبنمې څاڅکو لاندې لوبېږي مور او کورنۍ مې سترګو ته ودرېدل. د دوی د يادونو د طوفان هجوم مې خونې او زما ژوند کې غوغا ګډه کړه. يوه ورځ د اسمان لمن وريځو پوښلې وه. د باران پاسته څاڅکي را ورېدل او د ونو پاڼې ورته نڅېدې د باران همدې څاڅکو لاندې يوه کورنۍ چې مور، پلار او اولادونه وو، په لوبو اخته وو. باران د څو شېبو لپاره ذهناً خپل کلي ته يوړم او هلته يې خپل د ختين کور د ديواله تر څېرمه تم کړم. يوه شېبه همدې تصور کې وم چې زه د خپل خړګي کور خواته د باران څاڅکو ته ولاړ يم. کله مې مور ته غږ وکړم او کله خپلې خور مرجان ته نارې وهم او په دې سره مې غريو ونيسي. دا له معجزې کمه نه وه چې له پينځلس کلونو وروسته مې د کورنۍ د مينې طوفان په زړه را ننوت، زړه او ذهن مې کلي کې و. خپلې کورنۍ پسې زړه تنګون سخت پسې

را اخیستی وم. په هغه ورځ له کوره ونه وتم، کار ته هم نه شوم لاړ. ټوله ورځ مې وژړل او ښه په چیغو چیغو مې وژړل. سر مې له دیوال سره وجنګوه او هرڅه رانه تاوېدل. د ژوندون ټولې خاطرې مې له سترګو تاوېدې. د کلي تیږو او لرګیو پسې خفه وم. د کلي هغه ختین کورګی مې ذهن مېخ و او پلار به مې همیشه د همدې کورګوټي په زینه ناست و او ماته به یې خوشکې کولې. بیا به مې مور را غبرګه کړه چې هلکه پلار سره دې خبرې مه اړوه!

زما ذهن سوال و او همدې پوښتنو پسې را اخیستی وم چې وخت یې نه دی چې باید کورته لاړ شم؟ ایا ما بد نه دي کړي؟ ایا شوني ده چې کورنی بد حال کې پرېږدم او بې چورته ژوند وکړم؟ د دې پوښتنو په ځواب زه هم نه پوهېدم. په دوېمه ورځ لاړم وطن ته. د ټک لپاره مې ټکټ وکړ. اوس همدې کش و ګیر کې یم چې زما ټګ منطقي دی؟ کورنۍ پسې زړه ټنګون مې تش احساسات دي که نه؟ د پرواز شپېې ډېرې سختې وې خو ما خپل نهایي تصمیم نیولی او تادي مې درلوده چې څومره ژر کېږي باید لاړ شم او له پلار نه مې د احساساتي چلند ښښنه وغواړم، با وجود د دې چې ډېر بد انسان وم، دومره عمر مې په ضد، بې رخۍ او یوازېتوب کې تېر کړ. له ټولو مې لاس اخیستی و. د دې ټولو سربېره مې صبر ونه شو. چې کابل ته ورسېدم شپه تر شپه

مې ټکسي تر خپلې سیمې د شهرستان ولسوالۍ پورې کرایي کړه او له چلوونکي سره مې تر خپل کلي خبره وکړه او بیه مې ور پرې کړه. کرۍ شپه مو سترې مزل وکړ. سبا ماسپښین ورسېدو. زمونږ د کلي بڼه هغسې نه وه ځنګه چې پېنځه لس کاله مخکې ترې را وتلی وم، ترې لاړم او ترۍ تم شوم او بیا مې هېڅ ترې خبر نه درلود. د کلي بڼه بدله وه، خلک په کې بدل وو، زلمیان اوس د پاخه عمر خاوندان شوي وو او د پاخه عمر خاوندانو د زړښت په درشل ولاړ وو او د هغه وخت عمر خوړلي تول په ابدي مرګ تللي وو. کله چې موټر کلي ته راڅنډ شو نو چلونکي ته مې وویل:

ـ هغه ځنډې خواته لاړ شه! هغه ځو ونې چې درته ښکاري هغه ځنډې ته ختین کور زمونږ کور دی.

زمونږ د کور شاوخوا زاړه کورنه نړول شوي وو. په ځای یې نوې ودانۍ ولاړې وې چې له امله یې زمونږ د کلي بڼه یوځه بدله برېښېدله خو یوازې زمونږ د غربت جونګړه په خپل حال ولاړه وه. بادونو او بارانونو خوړلي دیوالونه، د کړکیو اسماني رنګ او زما د ماشومتوب ځلی هماغه په پخواني قامت ولاړه وه. هماغه کورګي چې په جلا وطنۍ کې زما تخېل ته کده وکړه، کټ مټ هماغسې وو. له موټره را

ښکته شوم خلکو لیدلم خو چا نه پېژندم. څېرې مې بدلون کړی و خو زما همزولی نسل تر ما پاخه ښکارېدل د وطن سختو ورځو یې پر څېرو ژور اغېز درلود. د سختو حالاتو تراژېدۍ یې په څېرو کې له ورایه مجسمې وې. زما پوستکی لس کاله هوسا ژوندانه ځوان ساتلی و. په هر حال ما هم څوک نه پېژندل. پلی وخوځېدم روان شوم. چلوونکي ته مې کړل چې زما غوټې راپسې را واخله. هغه غوټو کې مې یو څه ډالۍ او سوغاتونه خپلې مور، خپلې یکې یوې خور مرجان ته را اخیستي وې او خپل پلار ته مې هم ځان سره ځانګړې سوغات راوړې. د هغه قهر او غوسه مې هېره وه. د کور په انګړ چې را ننوتم یو ناتوانه او کمزورې سپین ږیرې په برنډه کې ناست دی. وجود یې خپله سیکه بایللې، غټې چشمکې یې اېښې وې. د غږ اورېدو غوږۍ یې غوږونو کې اېښې وې چې تارونه یې ځوړند پراته وو. خواته یې ورغلم. پام یې راته نه وو. ښه نږدې شوم چې ګورم پلار مې دی آه څومره کمزوره شوی وو...

منډه مې کړه، په لاسونو یې پرېوتم، لاسونه مې ورته ښکل کړل، غاړه مې ترې تاوه کړه، زما چیغو اسمان کوڼ کړ، فضا زما د کرېکو له اورېدو ډېره ناتوانه وه، په مخ مې ښکل غېږ کې مې ټینګ ونیوه او په غریو نیولي غږ مې وویل:

ـ ابا! محمد یم.

خو ابا مې هېڅ عکس العمل ونه ښوده. ښايي هغه نور د ليدلو او اورېدلو ځواک له لاسه ورکړی و خو زه يې هماغسې غاړه کې پروت وم. ژړا مې نه درېدله. زه يې ځای ته راوستلی ونه شوم، همداسې غلی او بې تفاوته ناست و. راسره ونه غږيد. زما په راتګ نه خوښ و او نه خوابدی. همدې حال کې يوه ښځه له زينو را کوزيدله، ما فکر وکړ ښايي مور مې وي خو زما اټکل ناسم وخوت، بلکې هغه ستړې ستومانه او تازه له کاره را ستنه شوې مېرمن مې خور وه چې نستونې يې هماغسې بدوهلي و. زړې جامې يې پر تن وې. غربت يې ځېره سبزولې وه. چې ماته مخامخ شوه، يوه ناتراشه چيغه يې له خولې ووته او بېرته يې د زينو په طرف منډه واخيسته چې خواته يې ورغلم ومې نه پېژنده. کرۍ شيبه ورته متوجې وم خو دا هماغه يوه او نازولې خور مې وه چې زما ناځوانيو د غربت د تناره لمبو ته پرېښې وه. مرجان خبرې نشوای کولای. ټول بدن يې لړزې پسې اخيستی و. دخپل د ټيکرې پيڅکه يې د غاښونو لاندې ټينګه نيولې وه او اوښکې يې همداسې بې واره د سترګو له کاسو ورېدل. غېږه مې ترې تاوه کړه د مرجان چيغو زمکه او اسمان لړځول. غوښتل يې د پينځلسو کلونو دردونه راته وژاړي، غوښل يې د پينځلسو کلونو بې وسي او بې کسي

راته وژاړي، غوښتل یې د پینځلسو کلونو انتظار او نهیلو درد راته وايي، غوښتل یې چې زما د بې رخیو او ناځوانیو حال راته وايي خو غریو نیولې مری یې نه پرېښوده یوازې یې دومره ووېل د ابا سترګو درپسې دید پرېښوده، غوړونه یې زمونږ ساندو کاڼه کړل، تېرکال مور هم مړه شوه. مور مو نېستۍ، ناامیدۍ او غربت مړه کړه. بیا یې چیغو فضا ولړزوله. زما ذهن کې د قیامت جرس غړیده. د خور چیغو مې زما ذهن کې انګازې کولې. هغه په حقه وه.

مرجان په یوازې ځان ډېر درانه غمونه راکاړل. هغې نفقه ګټله، د مور له خوږو تر درمله یې هرڅه برابرول، د کونې او نابینا پلار پالنه یې کوله، د خپل د ورک ورور د وېر بار یې په زړه بار کړی و. مرجان د کور اخرنۍ امید وه چې زمکې یې کرل، د خلکو فصلونه یې ریبل، کورنۍ ته یې یوه مړۍ ډوډۍ برابروله. ددې تولو تراژیدیو سیورۍ یې په څېرې غوړېدلې و. د هغې چاودې او سوزېدلې مخ هرڅه ویل. د هغې له پرې شویو ګوتو او تناکو لاسونو دردونه څڅېدل.

زه راغلم خو هر څه هغسې نه و. زه ډېر ناوخته راستون شوم.....

# پای

افغان کتابتون

## O7R6tBpNfVmM2Q05یادونه!

**تاسې هم کولای شئ چې خپلې لیکنې، لیکلي کتابونه، مقالې، کیسې او داسې نور څه چې غواړئ له خلکو سره یې شریک کړئ، د افغان کتابتون د فیسبوک ایډي او یا د افغان کتابتون د ټیلیګرام چینل ته را ولیږئ.**

**موږ به ستاسې لیکنې، ستاسې تر نوم لاندې، په پوره ډول او بغیر له کومې ستونزې تر نورو ورسوو.**

د افغان کتابتون پتې:

ـ فیسبوک؛

https://www.facebook.com/profile.php?id=100093402694564

ـ ټیلیګرام؛

5O7R6tBpNfVmM2Q0